ډاکتر عبدالرحمن زمانی
۲۰۱۹/۲۰/۷

# له خپلواکۍ تر بې واکۍ او بلواکۍ یوه پیړۍ مخ پر شا مزل

## (د هیواد د خپلواکۍ د ګټلو د سلمې کلیزې په مناسبت)

نن یوځل بیا زمونږ کړیدلي او جګړې ځپلي اولس د هیواد د بشـــړیې ســـیاسي خپلواکۍ د ګټلو د ویاړ نه هیریدونکې یاد پداسي حال کې راتازه کوي او لمانځي، چې د قدرت په ګدۍ ناســـت واکمنان مو په بشـــړه توګه بې واکه، په وطن مو د خپلواکۍ او اســـتقلال په ځای بلواکۍ خپره، او د ملي حاکمیت پر ځای راته د هیواد د مقدراتو او راتلونکې سرنوشـــت او برخه لیک په هکله فیصلې په پردیو هیوادونو کې نیول کیږي .

مونږ خپله آزادي سل کاله مخکې لاسته راوړه، خواوس مو هم اتیا، تر، نوي فیصده ستم ځپلي ولس د بې سوادۍ، ولږې، فقراو بیکارۍ په پنجو کې ګیر دئ . او په زرهاوو ځوانان مو یا د کار په لټه ګاونډي هیوادو کې په نشه اې موادو معتاد راستنیږي، او یا هم اروپایي هیوادو ته د تیښتې په هڅه سمندرونو کې ډوبیږي او خپل ژوند له لاسه ورکوي .

مونږ خپله آزادي سل کاله مخکې لاسته راوړه، خواوس مو هم په هیواد کې امنیت نشته او هره ورځ مو له ګاونډي هیوادونو راغلي انتحاریان او ډار اچوونکې بې وځله او بیګناهه هیوادوال په وینو لمبوي .

لنډه دا چې مونږ خپله آزادي سل کاله مخکې لاسته راوړه، خواوس مو هم فکري، شعوري او سیاسي استقلال وده نده کړې او هیواد مو د ټولو ځلاندو افتخاراتو سره-سره بیا هم د کورنیو مافیایي کړیو، خارجي لاسوهنو او ملي یووالي د شوریدو او له ځانه دبې خبرۍ په پنجو کې ګیر دئ، او د پرمختګ او ترقۍ په لورې د خپلې طبیعي ودې نه بیا هم وروسته پاتې او بې برخې دئ .

مونږ خپله آزادي سل کاله مخکې لاسته راوړه، خواوس هم نه خپلواکه یو، نه یو بل ته د خپلواکۍ دمبارکې د ورکولو وړ یو، او نه د خپلواکۍ د لرلو خوشحالي کولی او جشن نیولې شو.

### که مونږ خپلواکي نه لرو نو بیا ولې دا ورځ داسد د میاشتې په اته ویشتمه (۲۸) لمانځو؟

د خپلواکۍ د ګټلو جګړه په ۱۹۱۹ کال کې د افغانانو او انګریزانو دریمه جګړه وه. په دغه جګړه کې زمونږ نیکونود مشرقې، جنوبې، قندهار او چترال په څلورو جبهو کې د خپل ځوان پاچا او ملي رهبر، غازي امان الله خان، تر قیادت لاندې د یوه ملي پاڅون او بیسارو قربانیو او فداکاریو په برکت د هغې انګریزي امپراتورۍ شونډک په خاورو ومخلو، کوم چې د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه فاتحه او مغرور راستون شوې وو، او تر ولقې لاندې مستعمرات یې دومره پراخه وو، چې لمر به پکې نه پریوتلو.

انګریزان پوه شول چې د خپل څرګند پوځې برلاسي سره - سره ، د افغانستان د خلکو د پولادي ارادې او په خاصه توګه خپلواکۍ غوښتونکو قبایلو د وسله وال پاڅون په وړاندې ټینګیدلې نشي، نو ځکه یې لومړې د متارکې غوښتنه او بیا د اسد د میاشتې په (۲۸) اته ویشتمه نیټه د افغانستان بشپړه سیاسي خپلواکي ومنله .

پدې توګه د اسد د میاشتې په ۲۸مه ورځ، زمونږ ملت د انګریزي استعمار د ۱۲۳ کلن شر نه ځان خلاص او د بشپړې سیاسي آزادۍ په ګټلو سره یې د ژوندانه په مختلفو تعلیمي، اقتصادي، کلتوري، ټولنیزو، سیاسي او ډیپلوماتیکوډګرونو کې پراخه انکشافي پروګرامونه پیل کړل .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

لکه څنګه چې هر هیواد په خپل تاریخ کې داسې لویې ورځې او نه هیریدونکې شیبې لري چې د هغوی په ویاړونو او افتخاراتو کې شمیرل کیږي، زمونږ د ګران هیواد په معا صر تاریخ کې دداسې تاریخي او ویاړه ډکو ورځو په جمله کې یوه هم همدا د اسد د میاشتې (۲۸) اته ویشتمه نیټه ده . د اسد یا زمري ۲۸ مه نیټه زمونږ د ملي وحدت او د ګډ هیواد په دفاع کې د یوه موټي واحد ملت د برې نښه ده.

د خپلواکۍ ملي پاڅون - زمونږ تاریخي ویاړ او د بشپړې خپلواکۍ دګټلو ورځ زمونږ د آزادي غوښتونکي ملت او ګران هیواد په سرنوشت کې یوه ډېره مهمه ورځ ده . هغه ورځ چې زمونږ تاریخ او اوسنې نسلونه پرې افتخار کوي .

د نړۍ د نورو ویښو او ژوندیو ملتونو په شان مونږ هم پدې ورځ سره راټولیږو چې د خپلو بریالیتوبونو او ویاړونو لمانځنه وکړو. دویاړونو لمانځنه یواځې د خپلې خوشالۍ، سرلوړۍ او غرور په نیت نه کوو، بلکې غواړو هغه په ښه توګه وپېژنو او د نورو ویاړونو د ترلاسه کولو لارې – چارې ترې ومومو؛ د خپلو ناکامیو څخه زده کړه وکړو او د راتلونکو مشکلاتواو آزمیښتونو په وړاندې خپل امکانات و سنجوو.

## د اماني نهضت یا غورځنګ اهدافو یواځې سیاسي اړخ نه درلود

د مشروطیت د غورځنګ او غازي امان الله خان اهداف یوازې د خپلواکۍ تر ګټلو محدوده نه وو، بلکې څوان پاچا د انګریزانو د ماتې او خپلواکۍ تر ګټلو وروسته، چې د هیواد د ترقۍ او پرمختګ لومړنې شرط ګڼل کیده، ډېر ژر داسې اصلاحات پیل کړل چې د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل دپاره وو، او په سیمه کې یې ځاري نه درلود. اعلیحضرت غازی امان الله خان، تر هغه ځایه چې ممکن وو، اصلاحات او ریفورمونه د خپل ځان، خپلې کورنۍ او دربار د غړو او دولت له لوړ پوړو مامورینو پیل کړل، څکه هغه پوهیدو چې که اوبه د پاسه په سرچینې کې خړې او ککړې وي، په ښکته ځایو او ویالو کې یې د پاکولو کوښښ بې ځایه او بیهوده هڅه ده :

- په اماني دورې کې دلومړي ځل دپاره یو داسې اساسي قانون جوړ شو چه په سیمه او نړۍ کې یې ځاري نه درلود. ددغه قانون په اساس ټول افغانان ، پرته له قومي، سیمه ایز، مذهبي او جنسي توپېره د مساوي حقوقو خاوندان شول، او خلکوته د هغوی حقوق وروپېژندل شول .
- د لومړي ځل دپاره نوي اداري تشکیلات جوړ، د دولتي ادارو دندې او وظایف سره جلا، او یوه مسؤله کابینه جوړه شوه.
- د لومړي ځل دپاره پر لویو جرګو سربیره دولتي شورا جوړه او بیا د افغانستان په لومړۍ ملي شورا بدله شوه .
- د لومړي ځل دپاره د نړۍ هیوادونو سره د یوه خپلواکه او مستقل مملکت په توګه سیاسي ارتباطات ټینګ شول.
- د لومړي ځل دپاره په هیواد کې اسارت او مرئیتوب، بیګار د ځورونې او شکنجو اعمال د قانون له مخې منع شول . او د کنیزې او غلام په نامه د انسان خرڅول او اخیستل بند شول '
- د لومړي ځل دپاره د یوې نظامنامې له مخې د هیواد د مطبوعاتو آزادي اعلان شوه او بیا د انیس، سحر او نوروز د شخصي جریدو په ګډون تر (۲۳) زیاتې جریدې او مجلې خپرې شوې او یواځې د معارف په مطبعه کې اوه سوه زره (۷۰۰،۰۰۰) ټوکه کتابونه چاپ شول.
- د لومړی ځل دپاره په هیواد کې د انجونو مکتب جوړ شو. او د د لومړی ځل دپاره د ښوونځیو متعلمین د زده کړو د پاره باندنیو هیوادونو ته واستول شول.
- د لومړی ځل دپاره په هیواد کې د اورګاډی یا ریل پټلۍ جوړه او ددهمزنګ د ماشین خانې نه تر دارالامانه یې فعالیت پیل وکړ. د جوړ شوي پلان له مخې د ریل کرښه باید له کابله تر غزنی – قندهار- چمن ، او له هغه ځایه تر هرات

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او تورغونډۍ پورې غزيدلې وای، چې له بده مرغه په هيواد کې د اغتشاش او اړو-دوړ له امله دا پروژه سرته ونرسيده
.

- دلومړي ځل دپاره هوائی قواوې او هوائي چلند منځ ته راغې او افغاني پيلوټان وروزل شول.
- د لومړي ځل دپاره په هيواد کې هوائي ميدان جوړ شو.
- د لومړي ځل دپاره مالي نظام اصلاح، بانکي نوټونه ياپيسې چاپ او جنسی ماليه په پولي ماليې بدله شوه .
- دلومړي ځل دپاره د افغانستان «پُستی ټکټ» چاپ او ګټې اخيستلو ته وسپارل شو. د کابل او سترو ولايتونو، او همدا شان د کابل او خارجي هيوادونو لکه ترکيې، ايران، هند او شوروی تر منځ د هوائي پُستې ليکه ټينګه شوه .
- د لومړي ځل دپاره په کابل کې عامو خلکو ته راډيو په کار واچول شوه او دا هغه وخت وو چې نورو ګاونډيانو راډيو نه درلوده.
- د لومړي ځل دپاره د تياتر او سينما پاخه بنسټونه کيښودل شول .

لنډه داچې د هيواد د پرمختګ او د خلکو د ژوند د وضعيت د ښه کولو دپاره داماني دورې د يوې لسيزې اقتصادي، تجارتي، صنعتي، زراعتي، مالداري، روغتيايي او نورې لاسته راوړنې دومره ډيری دي چې مونږ يې نن يوه پېړۍ وروسته هم آرمان او غوښتنه کوو.

## له خپلواکيه تر بيواکيه د يوې پېړۍ وروسته تګ عوامل

د هيواد د اوسنيو ستونزو او مصيبتونو د تاريخي عواملو پېژندنی دپاره د تيرې يوې پېړۍ تاريخ ته يوه بيا کره کتنه په کار ده تر څو زمونږ نني او راتلونکي نسلونه پوه شي چې که نن د افغانستان مليونونه اوسيدونکي د سواد او پوهې له نعمته بې برخې دي؛ که بې مروته پردي مو په آسانۍ سره د مکروبونو په شان د سياسي، کلتوري، اقتصادي، امنيتي او روحي چارو رګ-رګ ته ننوتلي؛ که د قومي، ژبني، مذهبي او نورو تعصبونو او کرکو بلاوې مو ورځ تر ورځ پياوړې او زمونږ د ستونزو د ماشورې دسر پيداکول مو ورځ په ورځ لا پسې سختيږي؛ نو ددې ټولو خطرناکو ناخوالو ريښه او سټه مو د افغانستان د پرونيو واکمنانو په ضد ملي سياستونو او کارنامو کې نغښتل شوې ده .

که د اماني غورځنګ د ماتې او سقوي تورې انتقالي دورې نه وروسته دنوي استعمار په مستقيمه مرسته واک ته رسيدلي خانداني رژيم ماهيت او ورځني سياست ته وکتل شي، نو په آسانۍ سره څرګنديږي چې ددوې بقا پدې کې وه چې هيواد او اولسونه دې وروسته پاتې، ورې او بې وځله وساتل شي، د ملي معارف د پراختيا مخه ونيول شي؛ د کورني استبداد او انګريزانو د نفوذ په وړاندې د خلکو د ملي مقاومت او ميړانې د روحيې د وژلو او ملت د کمزورې کولو دپاره د ې دخلکو ترمنځ ژبني، مذهبي، نژادي، سيمه ايز، او قبيلوي نفاق واچول شي؛ او د دغه پروګرام په پلي کولو او تطبيق کې دې د ويرې او ډار، ځنځير او زندان، شکنجې او اعدام، دوکې او فريب، په سياستونو اتکا وشي .

تر هغې وروسته مو په تيرو ځلوېښتو کلونو کې د روسانو په اوړو سپاره تپل شوي رژيمونه، د پاکستانيانو په اوږو سپاره راستول شوي رژيمونه، د امريکنيانو په اوږو سپاره په بن کې جوړ شوي رژيمونه وليدل، چې څنګه يې د پردو په ګټه د افغانستان د خلکو په سرنوشت لوبې وکړی، او دا لړۍ او سلسله لا تر اوسه هم دوام لري .

د اماني نهضت تر ماتې وروسته د پردو پر اوږو سپرو تپل شوو رژيمونو د ظلم او استبداد، انسان وژنې، شديده سياسي اختناق، پر بشري حقوقو او انساني کرامت د تيرې، واک ته رسيدو او شخصي ګټو دپاره د ملي ګټو تر پښو لاندې کولو، په پته د نورو د ګټو دپاره د خلکو او هيواد په سرنوشت لوبې کولو په شان ځينې مهم ګډ خصوصيات درلودل . چې په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نتیجه کې پې زمونږ ملت دې حال ته رارسولې آن تر دې چې ډېرو لا د تاریخ هغه مهم سبق هم هیر کړئ چې افغانستان د امپراتوریو قبرستان دئ .

زما اشاره پدې وروستیو ورځو کې د افغانستان په هکله هغه سپکو او هوائي خبرو ته ده چې په بې ماهیته او بې ځایه غرور سره د ځمکې د نقشې له مخه د افغانستان محوه کول خپل تصمیم پورې مربوط ګڼي. دوې دا هیر کړي چې پدې خاوره کې د داسې ډېرو قدرتونو او امپراتوریو پوزې په خاورو منډل شوي دي . له تاریخه بې خبره دا کسان نه پوهیږي چې:



ځو چې دا ځمکه آسمان وي

ځو چې دا جهان ودان وي

ځو چې ژوند پر دې جهان وي

ځو چې پاتې یو افغان وي

تل به دا افغانستان وي

(پای)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ